مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

معصوم هوتک

۲۰۲۱/۰۴/۲۵

# د ساحل چورتونه

هـــره ورځ دوه درې ســاعـــتـــه د اوبـــو پـــر دغـه غاړه
د چـــورتـــو پـــه تـال زنګېږم، زه و خیال یو لاس تر غاړه

اچـولـی مـي نـظـر وي د نـاپـایـو اوبـو پـای تـه
را اخـیـسـتـي بـاد مـوجـونـه یو پـه بـل کي سره نغاړه

د هـېـلـیـو غـټ سپلـونـه، سپینـي بـتـي، کـوتـانـونـه
نـه ئي بېره لـه ښکاري وي، نـه ئي وهـم وي لـه بـاړه

که زاړه دي که ځوانان دي، خوښ خوشاله مست خندان دي
نـه یخـنـی تـه پـرېشان دي، نـه تـشـویش یي لـه اهـاره

مـاشـومـان و کمکیان غـورځي، پـه رېګو کي سره پرځي
زوږ بـودا هم خـنـدان ګرځي، نه ئي غاښ وي نـه ئي داړه

بـنـدرګـاه د جـهـازونـو، تـفـریـحـګاه د زلـمو نجـونو
پـر هـر مـوړ د دېـوالـو و د ګـلانـو دوه درې لاړه

نـن سفـر د چـورتـو اوږد سو، ولاړم ـ ولاړم تـر وطـنه
را پـه یـاد سول خـپل دښـتـونـه د دامـان بـې اوبـو، شاړه

وچي ترخي سپېرې سپاندي، خږ کربوړي وي تر لاندي
د کـانـدیـالـو اغـزو مینـه، کلـکـه مـځـکـه لـکـه کـراړه

پـه دانـو ئـي مـاره نـه وي، د دامـان ښـکـلي مرغیه
ګـذران ئـي وي په شګو، کـه کـوتـره وي کـه خـراړه

پـکښي مېشت ګـڼ اولسونه، پـه لـمـرو سوي مخونه
یـو لـه بـلـه وي تـربـرونـه، پـه بـدیـو اخـتـه واړه

خـوار قسمت یـم منسوب کـړی، داسي قـام داسي ګدی ته
نـه ئي بـل ته خیر رسېږي، نې خپل حلق لوند وي په ناړه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په خیر و لولئ

په دې عصر کې د پوهې، ساتل سوی وي ناپوهه
ړوند و کوڼ ناست د بل در ته، بس په نوم د ابا وياړه

داسې قوم دئ چا ليدلی چې پوره څلويښت کلونه
بازيچه وي د دښمنو، "مېړ مرداره پور پر غاړه"

نه ئې سر خلاص وي په لوبه، نه ئې بېره له آشوبه
نه را ويښ له درانه خوبه، خانتما وي په ريختاړه

د دنيا په تګ او يون کې، دی هر وخت په شواخون کی
کور ئې ګور وي بخت ئې تور وي، د ژوند مېنه ئې لتاړه

دين ئې وچ کلک په تقليد وي، ناخبر له وعد وعيد وي
د قيام پر ځای ئې ناسته، د قعدې پر وخت ولاړه

يو ملت چې خدای رازلی، له ازله وي بدمرغه
د نفاق په رنځ اخته وي، هر مرض ئې توره غاړه

اور پر بل وي د جنګونو، کور ئې ړنګ په تاړاکونو
ژوندون ډک له اپتونو، له اسمان و مځکې دواړه

حاکمان ئې ظالمان وي، غله رهزن ئې واکمنان وي
واعظان ئې شنه اميان وي، دين دنيا ورانه ويجاړه

وچکالۍ ئې کال په کال وي، مرور ترې پشکال وي
د رحمت باران محال وي، په ارګوړو ئې تل غواړه

پر کردار ددې کوربنادو، پر ګفتار ددې نامرادو
پر رفتار د ياد نايادو، هر سهار و ماښام ژاړه

را ته تنګه قافيه سوه، ما ته هم جوړه پلمه سوه
چې د چورت لړۍ کنده سوه، د کښتۍ په لو رمباړه

آشاوا، کانادا
21مه د اپريل 2021ع

---

په دې نظم کې غاړه په څو معناوو راغلې ده:

اوله غاړه = ساحل،

دوهمه غاړه = ګردن (فارسي)،

دريمه غاړه = ذمه، عُهده،

څلرمه غاړه = ټوخی، يو راز ناروغي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ